# چا چې پداسې حال کې سهار کړ چې بدن يې روغ وي، کور او چاپېريال يې امن وي، د ورځې لپاره غله ولري، نو داسې ده لکه دا ټوله دنيا چې ورته راټوله شوې وي

له عبيدالله بن محصن الأنصاري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «چا چې پداسې حال کې سهار کړ چې بدن يې روغ وي، کور او چاپېريال يې امن وي، د ورځې لپاره غله ولري، نو داسې ده لکه دا ټوله دنيا چې ورته راټوله شوې وي».
[حسن] [الترمذي او ابن ماجه روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مسلمانانو ته خبر ورکوي چې: اې مسلمانانو، له تاسو څخه چې څوک په داسې حال کې سهار کړي چې بدن يې له ناروغيو او دردونو سالم وي، په ځان، کورنۍ، اولادونو، او لاره کې امن وي، هېڅ وېره ونه لري، د ورځې لپاره له حلالو څخه دومره غله يا روزي ولري چې بسنه کوي، نو داسې ده لکه ګويا چې ټوله دنيا ورته راټوله شوې وي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee